مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمدسميع صادق

۲۰۲۶/۰۶/۱۲

# د رباب جنازه

## قصه به سلو ټکو کي

واکسالار د حرامو په قطار کي پر نغمو هم بنديز ولګاوه. يوه ربابي لا هم خپله نغمه ږغوله، نه ئې د زماني د قاضيانو فتواوو ته غوږ نيوى او نه ئې د فرمانروا له بنديزونو وېره لرله. د رباب تارونه له وږمو سره په خبرو ول، لکه آزادي چي د حکمونو ژبه نه پيژني.

جابر واکمن غضبناک سرتيري وروليږل څو رباب ئې وروسوځوي او دی ستې کړي.

ربابي جلادو سربازانو ته وويل:

«ولي ئې سوځوئ؟ ښخ ئې کړئ.د هندو نه د مسلمان افغان رباب دئ. دلته سپيڅلي ګنګا هم نسته چي ايرې يې ورواچوئ او روح ئې ورارامه کړئ.»

محمدسميع صادق



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په خير و لولئ